AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۰/۱۲/۲۶

# چا ته عرض او چا ته داد کړم



په هیواد کي ډیر جنګونه
دا ویجاړ ویجاړ کورونه
ډیر لوېدلي اورمېږونه
دا ړنګ شوي دیوالونه
آ لوټ شوي عزتونه
د زوی مړو میندو زړونه
د وروړ مړي خور آهونه
دا د وینو بارانونه
دا د اوښکو سیلابونه
دا پر خلکو ستمونه
چا بل کړي دي اورونه
چا ته وکړو فریادونه

چا ته عرض او چا ته داد کړم
څه ته وګورم تا یاد کړم
ناکردو مي زړه کړم کړ
د زړه کور په څه اباد کړم
خدایه ته مي تکیه ګاه شه
کنه ژوند به هم برباد کړم

۲۰۲۰/۱۱/۱۴



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ